# په هالند کې د افغانستان ملی ګوند د شورا د خواخوږۍ پیغام

په ژورې خواشینۍ سره مو د هېواد د ربړیدلو خلکو د نېکمرغۍ او وران هېواد د سمسورتیا د نیمګړو آرمانو د ویاړه ډکې لارې، د یوه نامداره سالار او پولادهوډه ملګری عبدالواحد «فراهی» د بې وخته مړینې خبر واورید.

دې لړزوونکی پېښې نه یواځې د «فراهی» کورنۍ، بلکې د «فراهی» په لسګونو زره هم مورچله ملګری،او د «فراهی» ګڼ شمېر دوستان په سوګ او شوک کې کښېنولی دی.

په داسې حال کې چې دې ویرجنې پېښې د بې مرګه «فراهی» پر غم ځپلو یارانو دروند سیورۍ غورځولۍ دۍ مونږ په دې ویرلړلی شیبه کې د «فراهی» د ځای تشې په اړه د هغې درندې کورنۍ، خپلو ټولو ملګرو او د هېواد د مخکښ سیاسی غورځنګ ټولو لارویو، او د «فراهی» دوستانو ته، د زړه له کومې ډاډګېرنې (تسلیت) مراتب وړاندې کوو.